# پښتو او د ژباړې اړتیا

Ketabton.com

صالح محمد صالح

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه:

ژباړه د هرې ژبې لپاره د یوې سترې روزونکې او مرستیالې په کچه ارزښت لري، هره ژبه د ژباړې په مرسته هم ژوندۍ پاتېږي، هم په پوهنیز، ټولنیز، ښوونیز او فرهنګي ډګر کې ځان ته د پرمختګ لاره اواروي. اوس ځینې ملتونه د ژباړې د ارزښت له مخې دومره ویښ او هڅاند شوي، چې هر ارزښتمن کتاب په خپله ژبه ژباړي او خپروي یې. پرته له دې چې مذهبي، فرهنګي او ټولنیز توپیر د هغوی لپاره کوم برید او خنډ وي.

ښه بېلګه یې په امریکا کې هغه نوی لیکل شوی اثر دی، چې لا یې اصلي مسوده نه وه چاپ شوې، چې د ایرانۍ ژباړې زېري یې د ایرانیانو غوږونو ته ورسېد. که چېرې په ایراني فرهنګ او ادب کې د ژباړې ونډه یوې خوا ته کړو، نو له ژباړې پرته به دغه ژبه ډېره غني ونه برېښي. همدغه راز که اردو ژبې ته ځیر شو او د پرمخیون یا پرمختګ لامل یې وڅېړو، نو یوازېنی لامل چې دغه ژبه یې تر نړیوالو پولو رسولې، په اردو کې د بېسارو او هراړخیزو کتابونو ژباړه ده، چې د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې یې سرعت زیات شو. خو شلمې پېړۍ، دغه ژبه نژدې په ټوله نړۍ کې خپره کړه، اوس شرق څه، چې په غرب او نورو خلیجي هېوادونو کې هم ګڼ شمېر وګړي پرې خبرې کوي او ان چې پالي یې هم .

که څه هم د اردو ژبې تاریخي قدامت ډېر لږ دی، خو اوس د انټرنټ او کمپیوټر ژبه ده، ګڼ شمېر ویونکي لري او د نړۍ له مهمو ژبو څخه ګڼل کېږي.

له بده مرغه چې کله کله خو یوې ژبې ته هغه ارزښت نه ورکول کېږي، څومره چې ورسره ښایي. وایي: ټېګور خپل شهکار اثر ګیتانجلي په بنګالۍ ژبه ولیکه، خو په پیل کې یې یوازې د ګوتو په شمېر مینه وال ځان ته رامات کړل، کله چې ټېګور دغه اثر په انګرېزۍ راوژباړه، نو د نوبل نړیواله ادبي جایزه یې ترلاسه کړه او په دې توګه د نړیوالو نوماندو (مشهورو ) لیکوالو په ډله کې وشمېرل شو، هغه هنري متره یې هم په نړیواله کچه مطرح شوه، ځکه خو یې د خپلو څو رخه ګرو (حریفانو ) په وړاندې ویلي وو:

د مینې هغه خدای چې ما په شرق کې لټاوه، له غرب څخه د مینې لاسونه راوغزول.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستره ستونزه همدغه ده چې کله-کله چاپېریال نامساعد وي او د فرهنګیانو، ادبپالو او هنرپالو لاسونو ته زینديږ وراچوي، ګنې شهکار اثر که په هره ژبه کې وي، خپل هنري ارزښت یې خوندي او پټ وي. ښېنوا ایان که په پاړسي ژبه ژباړل شوی، بیا هم زیاتو کسانو لوستی، د اټکل له مخې استاد حبیبي په طلوع افغان ورځپاڼه کې برخې- برخې خپور کړی هم دی، چې لا راټول شوی نه دی. خو که هر وخت راټول او د یوه بېل کتاب په بڼه چاپ شي، خپل هنري او ادبي ارزښت به لري.

ژبه د پوهونې- راپوهونې تر ټولو ښه او اغېزناکه وسیله ګڼل کېږي، چې انسانانو د خپل ژوند له پیله تر دې دمه ترې ګټه اوچته کړې ده. یوه زمانه به انسانانو د خبرو- اترو لپاره کره او سمه ژبه نه درلوده، د خطر په وخت کې به یې یو ډول رږغ کاوه، د خوښۍ په وخت کې به یې ځانګړې نارې او کوکې وهلې، د خواشینۍ لپاره به یې بېل اوازونه کښل، همدغو رږغیزو توکو (موادو) د خلکو ترمنځ دود وموند، چې وروسته یې رږغیزه یا د خبرو- اترو اوسنۍ ژبه دود کړه.

د ځینو لرغونو پاچایانو او ټولواکانو په وخت کې چې لیکنۍ ژبه لا نه وه دود شوې، نو انځورګرانو به د ونو پر ډډونو، دېوالونو یا ښویو ډبرو انځورونه کښل، د انځورونو په واسطه به یې خپل نور ملګري یا هملاري پوهول، خو کله چې لیکنۍ او رږغیزې ژبې لږ څه نور پرمختګ هم وکړ، لیکدود رامنځته شو، چې اوس د نړۍ ټولې ژبې ځانګړی لیکدود او لیکلار لري. ان داسې هېوادونه هم شته چې څو ژوندۍ ژبې په کې ویل کېږي، خو هلته هرې سیمې ته داسې نصاب، اداري نظام او د خلکو ژبه هماغه ژبه وي، چې د سیمې ډېرکي خلک یې ویونکي وي، حکومتونه هم هرې ژبې ته برابر ورکوي او کوښښ کوي، چې د خپل هېواد او سیمې هرې ژبې ته وده ورکړي. درسي نصاب په هماغه ژبه وي، لوحې په هماغه ژبه وي او خبرې اترې هم هماغسې دود لري .

د پښتو یوه ستونزه دا ده چې په لره خوا کې د اردو ژبې تر ښکېلاک لاندې ساه کاږي او بل پلو یې بیا د پاړسي، په ځانګړې توګه د ایران کلتوري ستم زیاه ځپلې ده. په کوټه، رېوب، لورلایي، پښین، رېوب، ان تر پېښوره پورې یوه لوحه هم په پښتو نه ده راژباړل شوې، که شته، هم د ګومره والي له مخې لږې دي. یو ښوونځی هم پښتو لوست نه ورکوي. نو پښتو به څنګه وده وکړي؟

په ټوله سیمه کې واکمن دولت اجازه نه ورکوي، چې په ښوونځیو کې دې پښتو لوست ورکړل شي. دولت اجازه نه ورکوي، چې کومه لوحه دې په پښتو واړول شي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لره خوا کې هم د کابل او هرات غوندې نورو ولایتونو یا ښارونه د پښتنو او پښتو هدیره ګڼل کېږي، په دې دوو لسیزو کې د چا نه یادېږي، چې په کابل یا هرات کې دې د پارسي کتابونو په اندازه دې پښتو کتابونه چاپ شوي وي.

په سیمه کې تر پنجابیانو وروسته پښتانه غوڅ اکثریت دي، خو ستونزه دا ده چې په د پاکستان په ځینو ښارونو او هندوستان کې پښتانه یوازې په دې پېژندل کېږي، چې له خپل نوم سره د (خان) توری لیکي، په هند کې خو ډېرکي پښتانه نه په پښتو خبرې کولای شي، نه هم پښتو لوستلای شي.

زموږ موخه د ژباړې له اړخه د پښتو پیاوړي کول دي، غوره به دا وي، چې پر نورو خواوو زیاتې څرګندونې ونه کړو.

که چېرې پښتو ته د ژباړې لپاره د کار و زیار تیاری نیول کېږي، تر هرڅه لومړی باید د پوهنتونونو او ښوونځیو درسي کتابونه په نوي میتود او له نویو پوهنیزو معیارونو سره سم برابر، بیا دې چاپ او ووېشل شي. خو د پوهنتوني کتابونو د ژباړې په برخه کې هم زیاتې ستونزې شته، چې وروسته به یې پر خپل ځای وڅېړو.

پښتو یوازې په دې وده نه کوي، چې هرڅوک دې ورباندې پوه شي او پښتو خبرې دې وکولای شي، بلکې پښتو که په هره توګه وده کوي او د ودې لارې چارې یې هرڅه وي، یو ارزښتمن اړخ یې د پوهنیزو کتابونو ژباړه ده، چې دغه کار د ژبې په بډایتوب او وده کې ستر اغېز لري. خو د پښتو بدمرغي همدا ده چې پوهنیز کتابونه یې لږ دي او د ژباړې تله یې درنه نه ده، د پښتو د علمي کولو لپاره یوه داسې اقدام ته ضرورت شته، چې وکولای شي په ټوله سیمه کې مېشت پښتانه د پردیو له کلتوري ستم څخه راوباسي، یوه اېډیولوژیکه تګلاره دې ورباندې پلې کړي، چې شعوري خلک کار او پراخو هڅو ته اړ کړي. هسې خو هم ویل کېږي، چې پښتو په مړو ژبو کې راځي او تر څو کلونو وروسته به له خلکو هېره وي، هغه د چا خبره د مړو شویو ژبو په کتار کې به راځي.

ژبه په دوه ډوله ده: یوه هغه چې ژوندۍ ده، هغه ژبه چې د یوه یا څو ملتونو وګړي پرې خبرې او لیک-لوست کوي، باید هر څوک ورباندې وپوهېږي.

دویم ډول هغه ژبه ده، چې په هغې باندې د خبرو اړتیا نه پېښېږي، دا ژبه مړه ده، نه سم اسلوب او ژبني قوانین لري، نه به هم په ورځني ژوند کې کارول کېږي).1(

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګنده خبره ده چې نه کارېدونکې ژبه پایښت، محبوبیت او پیاوړتیا نه شي موندلای، خامخا به له دوده لوېږي او له کاروني څخه لوېدلې ژبه نه له نورو سیالو ژبو سره سیالي کولای شي، نه هم له پوهنیزو شتو څخه برخمنېدلای شي، له پښتو سره هم همدغه د میرې سلوک شوی، پښتانه په دې ګناه ځپل شوي، سپک شوي او رټل شوي، چې په پښتو خبرې کوي.

تر هغه وخته چې پښتو د دفتر او رسمي ادارو، دربار او دولت ژبه نه شي، وده یې هم ناشونې ده. ښه دا ده چې خپله آر (اصله) سکالو (موضوع) له څو اړخونو وڅېړو او وګورو چې جفاکارو کومې نادودې ورسره کړې، همدغه راز یې د ژباړې له اړخه یې د ودې او پراختیا کومې لارې چارې اوارولای شو؟

په ټولنیزه ډګر کې:

ټولنیز ژوند د انساني اړیکو یوه واحد بهیر ته اړتیا لري، په یوه ټولنه کې انسانان یو بل ته لازم او ملزوم دي، چې همدغه اړتوب او یا یو بل ته ضرورت، انساني ټولنه پالي. له ورکاوي او ړنګېدو څخه یې ساتي.

کله چې موږ د ژبې اړخ ته پام کوو، نو په دې برخه کې که څوک غواړي، هراړخیزه هڅه پیل کړي، لومړی باید د نورو ژبو، ملتونو، توکمونو او دودونو لـه څرنګوالي څخه ځان خبر کړي، که چېرې په یوه ژبه کې د نورو ملتونو، د دودونو، کلتور او پوهنیزو هڅو په اړه لیکنې او مواد نه وي موجود. نو په دغسې بېخبرۍ کې هر فعالیت، کار و زیار بشپړه پایله نه ورکوي. ځکه په داسې بېخبرۍ کې قضاوتونه او اټکلونه ناسم خېژي.

په پښتو کې هم باید د نورو هېوادونو د ټولنیزو اړیکو او ټولنیزو دودونو اړوند کتابونه راوژباړل شي. په دې توګه به هم د نورو هېوادونو لـه ټولنیزو تجربو څخه ګټه اخیستلای شو، هم به د یوې داسې نوې ټولنې بنسټ ایښوولای شو، چې د نېکمرغۍ او سعادت لپاره یې په خپله هڅه کوو .

دا چې پښتو دومره وروسته پاتې ده او په نړۍ، یا نورو ملتونو کې دومره مطرح نه ده، وجه یې همدا ده چې ټولنیزې اړیکې یې کمزورې دي، تر اوسه د پښتنو د ټولنیزو چارو کوم اړوند کتاب په انګرېزۍ نه دی ژباړل شوی، چې نړۍ یې ولولي او ځان پرې خبر کړي. له همدې کبله زیات پښتو ضد او پښتون ضد کسان چې یوه موخه یې د پیسو ګټل وي، د افغاني ټولنې ارزښتونو، دود او

(c) ketabton.com: The Digital Library



روایتونو ته پام نه کړي، راولاړېږي او داسې فلمونه جوړوي، یا داسې مطبوعاتي خپرونې کوي، چې په افغانستان کې نه وېشل کېږي، بلکې امریکا یا نورو هېوادونو ته لېږل کېږي او هلته خپرېږي. دغسې یو فلم په کابل کې د ایېنې دفتر له خوا جوړ شوی و، دغه مرکز د فرانسویانو له خوا حمایه کېږي، لویه موخه یې همدا ده چې غیردولتي خپرونو ته مالي لګښت ورکړي او نورې هنري چارې ترسره کړي. دوی د اسامه په نامه یو فلم جوړ کړی، چې یوه افغانه ماشومه یې په کې انځور کړې ده، منفي کرکټرونه یې ټول پښتانه دي، چې په پښتو خبرې کوي. سم او په اصطلاح ملایکې ورونه ټول د نورو ژبو ویونکي دي.

دغسې یوه بله بېلګه Escape from Taliban [له طالبانو تېښته] نومی هندی فلم دی، چې په دې وروستیو کې خپور شو، په دې فلم کې هم د پښتنو پر ټولنیزو ارزښتونو ملنډې وهل شوي، د دوی ټولنیزو ارزښتونه او دودونه منفي معرفي شوي، حال دا چې زیات پښتني-کلتوري ارزښتونه له اسلامي ارزښتونو سره غاړه غړې دي. که چېرې پښتنو د خپلو ټولنیزو ارزښتونو د ځلولو او خپرولو وسیلې لرلای، یا یې لږ تر لږه د نورو هېوادونو ټولنیز ارزښتونه په پښتو یا د پښتنو ټولنیزو ارزښتونه په نورو ژبو ژباړلای، نن به د دغسې خرافاتو او لارورکوونکو هنرونو مخه هم نیول کېدای شوای.

د دې لپاره چې ایرانیان په خپل ټولنیز ژوند کې له کومې ممکنه ستونزې او ورکاوي سره مخ نه شي، نو اکثره بروشرونه، خبري پاڼې او اعلانونه د هغوی په خپله ژبه ژباړل شوي، ان پر داروګانو، تولیدي توکو او نورو محصولاتو هم په ایرانۍ ژبې لیکنې شته، چې د هغوی یو ماشوم هم پرې پوهېږي، ایرانیان دې ته نه مجبورېږي چې وییپانګه ورپسې راواخلي، یا هم بله ژبه ورپسې زده کړي. ټلویزیون، راډیو او ځینې نور ټلویزیوني چینلونه هم په پارسۍ ژبه دي، چې د ایران لپاره خپرونې کوي. له دې کبله نه ایرانی ولس په دې برخه کې کومه ستونزه لري، نه یې هم ماشومان خپله ملي او رسمي ژبه هېروي، بلکې د ملت جوړونې پروسه یې هم په ښه روانه ده او برياوې یې هم خورا زیاتې دي .

په ټولنیز ژوند کې ژبه هغه وخت غوره رول او خپل بشپړ مسئولیت ترسره کولای شي، چې پوهاوی-راپوهاوی پرې اسانه وي. همدغه راز ښه زېرمه او بنسټ ولري، که چېرې ژبه د ژباړې په برخه کې بهرنی ملاتړ ونه لري او ځواک ورکوونکې سرچینه یې کمزورې وي، امکان لري، خلک د یو بل د

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهونې لپاره د نورو ژبو له ادبي، هنري او ټولنيزو ويپونو څخه کار واخلي، خو که چېرې يوه ژبه د خلکو ټولې ژبنۍ اړتياوې ځوابولای شي، خلکو ته هم هوسايي وربخښي، د دې ترڅنګ د ټولنيز ژوند نظام هم روغ او رمټ پاتېږي.

پښتو نيولوجېزم، نيولوګېزم (لغت جوړونه، ويی رغونه) يوه ستره اړتيا:

په پښتو باندې د پوهنيزو کتابونو ژباړه که له يوې خوا يوه ستره اړتيا ده، له بلې خوا د پرمختګ او پرمختيا پرلوري يو ستونزمن ګام هم دی. په دې برخه کې که کتابونه ژباړل کېږي، نو يوه ستونزه چې زموږ ليکوال ورسره مخ کېږي، هغه په پښتو کې د ځينو پوهنيزو اصطلاحاتو نشتوالی دی. همدا اوس هم زياتې طبي ليکنې پښتو ته راژباړل کېږي، چې اکثره انګرېزي اصطلاحات يې ټکي په ټکي رااخيستل کېږي، په په پښتو کې يې انډول (معادل) نه وي. له دغه ډول ليکنو څخه يوازې هغه کسان ګټه اخيستلای شي، چې د هماغه مسلک او مهارت لارويان وي. په هغه برخه کې معلومات او مطالعه ولري. له دې کبله زيات ليکوالان د پوهنيزو کتابونو ژباړې ته زړه نه ښه کوي.

که کوم طبي کتاب پښتو ته ژباړل کېږي، 30 سلنه يې لاتيني او انګرېزي اصطلاحات رااخيستل کېږي. چې محصل اړ دی، هغه اصطلاح کټ- مټ ذهن ته وسپاري، حال دا چې په پښتو کې به يې اصلي مانا ډېره ښه کېږي او معادل توری به ورته جوړېدی هم شي، نو له ژبپوهانو څخه هيله کوو چې د مسلکي کتابونو د زياتوالي او د ژباړې د ښه والي لپاره طبي، ساينسي او ... قاموسونه وليکي، چې کومه ستونزه پاتې نه شي.

که چېرې د ژبپوهنې له قواعدو او اصولو ناخبره کسان لغت جوړونې (نيولوجېزم) ته لاس غزوي، ښايي پايله يې ګټوره نه وي، ژبپوهان دغه کار ښه کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اسلامي ډګر کې:

پښتو او اسلام سره تړلي د زنځیر دوې کړۍ دي. هغه قوانین او قواعد چې اسلام یې لري، په پښتو کې هم شته او مني یې. د دې لپاره چې دغه مانیزې (معنوي) اړیکې نورې هم پیاوړې شي او په خلکو کې اسلام لا غزونې وکړي، په کار ده چې په مسجدونو کې ماشومانو ته تدریسېدونکې کتابونه په پښتو وژباړل شي، البته هغه کتابونه چې په پارسي یا اردو ژبو دي.

زموږ زیات ملایان همدا اوس هم په کلیو کې که قدوري، خلاصه او یا پنج کتاب تشریح کوي، ترجمه یې په پارسي یا اردو وي، چې نه یې زیات ښوونکي په پوره مانا پوهېږي، نه هم زده کوونکي. خو که چېرې دغه اسلامي کتابونه پښتو ژباړه ولري، هم به دغه ماشومان ورباندې ښه ترا پوهېږي، هم به زیات خلک ترې ګټه اخیستلای شي، لکه څنګه چې په دې وروستیو کې ښاغلي جان محمد کاکړ قدوري او نور ظلم په پښتو ژباړلي، دغه ډول نور کتابونه هم که پښتو ته واړول شي، هم به خدمت وي، هم ثواب.

زیات کلیوال خلک لا خبر نه دي، چې پنج کتاب (پنج ګنج) د خلکو له خوا لیکل شوی، که نه د ایتونو ترجمه ده. ځکه همدا اوس هم ځینې ساده خلک وایي: پاک خدای په پنج کتاب کې فرمایلي دي:

کریمای ببخشای برحال ما

که استیم اسیر کمند هوا

یا هم د حدیث او ایت توپیر نه شي کولای، نو ځکه وایي: د پاک خدای یو حدیث دی.؟!

که چېرې نوي اسلامي کتابونه جوماتونو ته لار ومومي، له دغه ډول تدریسي- اسلامي کتابونو سره پښتو ژباړه هم مله شي، د عام ولس سترګې به هم روښانه شي، ملایانو ته به هم پوهونه اسانه شي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ژباړه کې ځراکت:

هر ژباړن به په خپل کار کې مسلکي تجربه نه لري، اکثره کسان د خپل ذوق له مخې ژباړه کوي، چې دغه کار ښه پایله هم ورکړې ده، ځکه زیات پوه او د لوړو زده کړو خاوندان لیدل شوي، چې سمه ژباړه نه شي کولای. ځینې کارپوهان په دې عقیده دي:

که سړی نورې ژبې زده کوي، نو اړ دی چې ترڅنګ یې څو نورې ژبې هم زده کړي. دوی د پارسي مثال ورکوي، چې 40٪ عربي په کې ګډه ده. هغه څوک چې غواړي پارسي زده کړي، باید عربي هم زده کړي. یا هغه کس چې غواړي اردو ژبه زده کړي، اړ دی، چې عربي، انګرېزي او ... هم یادې کړي، چې دغه ستونزمن کار، خورا زیات وخت او زیار ته اړتیا لري.

د پښتو ژبې نېکمرغي په دې کې ده، چې سوچه توب لري، په کار ده چې دغه کره والی یې وساتل شي، نه دې دومره افراط وشي، چې خلک قاموسونو ته اړتیا پیدا کړي، نه دې دومره ساده شي، چې هغه ټول اصول او ژبني قواعد یې مات کړای شي، بلکې منځنۍ لار یې غوره ده.

یو شمېر کسان چې ژباړه کوي، د پښتو د متقابلې ژبې له ژبنیو اصولو، قواعدو، ګرامر، نحو او نورو اړخونو سره زیاته بلدتیا نه لري، د ساري په توګه په جرمني کې د یوې کوچنۍ پېغلې انځور چاپ شوی و، چې په پارسي کې ترې لاندې لیکل شوي وو: (دختر افغان) خو په پښتو کې بیا په (د افغان لور) ژباړل شوی و، چې اصلي ژباړه یې (افغانه نجلۍ) کېده.

یو پښتو ناول په اردو ژباړل شوی، چې د غویي لاندی (د غویي وچه غوښه) په (ګاو کي نیچآ) یانې (تر غویي لاندې) ژباړل شوی.

بله ستونزه ده چې یو شمېر کسان ټکي په ټکي ژباړه کوي، موضوع ته نه ګوري، د ساري په توګه:

ـ در قسمت های اخیر شهر دیده میشد که مردم دور هم جمع شده اند.

ـ په اخرو قسمتونو کې د ښار زیات خلک لیدل کېدل، چې سره راغونډ شوي دي. (ناسمه)

ـ د ښار په وروستۍ برخه کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه. (سمه)

ـ در بین انها اوازه بود، که امروز باران خواهد بارید.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ په مابین کې د هغوی اوازه وه، چې نن به باران اوري. (ناسمه)

ـ په هغوی کې ګنګوسې و، چې ښایي نن باران واوري. (سمه)

کله- کله د یوه توري بدلون د ټولې جملې مانا ته زیان رسوي او سړی نه پوهېږي څه ډول یې وارزوي.

د ساري په توګه په پښتو کې هر وخت فاعل تر مفعول مخکې راځي، خو ځینې کسان چې د نورو ژبو تر اغېزې لاندې دي او د نورو ژبو ګرامري قواعد پرې اغېز کړی، په پښتو کې هم تېروتنې کوي:

ـ احمد، وحید وواهه.

د ژباړن موخه دا وي، چې وحید راولاړ شو، احمد یې وواهه. خو په دې جمله کې اصلي مانا داسې ده، چې احمد اوچت شو، وحید یې وواهه. نو که وحید اوچتېږي او احمد وهي، باید داسې ولیکل شي:

ـ وحید، احمد وواهه.

ـ انسان پاک خدای پیدا کړی دی. (ناسمه)

ـ پاک خدای، انسان پیدا کړی دی. (سمه)

ـ په پټیو کې شوتلې، باران راشنې کړې. (ناسمه)

ـ باران، په پټیو کې شوتلې راشنې کړې. (سمه)

یو شمېر توري اوس په اوښتې بڼه کارول کېږي، چې سمه مانا نه ورکوي. د ساري په توګه یو توری یا یو حالت چې باید د اغېزناک (موثر) په توګه وکارول شي، د (اغېزمن) یانې (متاثر) په بڼه کارول کېږي. هغه خبره یا عمل چې پر نورو یې اغېز کړی وي، اغېزناکه (موثره) ده. باید د اغېزمن (متاثر) په توګه ونه کارول شي.

غمجنیه پېښه. (ناسمه) یا هم وایي: خواشینې خبره ده.

ـ غمجنه د اغېزمن (متاثر) لپاره کارول کېږي. باید:

ـ غموونکې، غمناکه، خواشینوونکې وکارول شي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دردمنه، خبره ده. (ناسمه)

ـ دردناکه خبره ده. (سمه)

ځینې نور توري بیا د خلکو له خوا په بله مانا کارول کېږي، چې اصلي مانا یې ډېره متفاوته ده او هېڅ سر نه ورسره خوري. زیات کسان اوس هم د (اړه) او (اړوند ) توپیر نه شي کولای.

اړه د ارتباط مانا لري، په جمله کې داسې راځي:

په دې اړه د خلکو خواشیني زیاته ده.

اړوند د مربوط مانا لري، چې په جمله کې داسې راځي:

ـ اړوندو چارواکو پرې خواشیني څرګنده کړه.

یا:

رڼا یوازې په لمر پورې اړوند توکی نه دی.

خو اوس په نړیوالو راډیوګانو کې هم د دغو دوو یادو شویو تورو توپیر نه سره کېږي. دوی اوس هم وایي:

ـ په دې اړوند چارواکي وایي.

چې سمې بڼې ته یې باید پام وشي. دغه ډول باریکۍ که اوس اصلاح نه شي، وروسته په ژبه کې زیاتې ستونزې راولاړوي، چې دغه ډول ستونزې زیاتره ځوان پوړ ته ګڼ شمېر جنجالونه او سرخوږی ولاړوي. خو استاد رشاد، بیا د (هکله- اړه) پرځای (باب) غوره ګڼي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پوهنيز (علمي) ډګر کې:

د ژبې غښتلتيا ، بشپړتيا او لرغونتيا د هغې له پوهنيز شاليد څخه جوتېږي. په نړۍ کې هم هغه ژبې زيات پراخ ملاتړي او دود لري، چې پوهنيزه پانګه يې زياته او ويونکي يې په ويلو ، لوستلو او کارولو کې کومه ستونزه ونه لري. يوه ژبه هېڅ وخت هم په هنري ليکنو او هنري نثرونو لکه لنډو کيسو ، ناولونو او نورو ادبي ټوټو نه علمي کېږي، بلکې د ژبې د علمي کولو او بډاينې لپاره علمي او پوهنيزو کتابونو ته اړتيا شته. له بده مرغه په دې برخه کې پښتو ډېره خواره ده ، که څه هم د پوهې په هر ډګر کې وړتيا او صلاحيت لري، خو ترډېره بريده حکومتونو له پامه غورځولې، بله دا چې پښتو لا پوهنتونونو ته په بشپړه توګه لار نه ده موندلې.

په کابل کې ډېرکي پښتانه مېشت دي. خو د دوی لپاره تراوسه په پوهنتون کې پښتو تدريس نه دی ځانګړی شوی، هغه محصلين چې د افغانستان له اطرافو يا کوزې پښتونخوا څخه کابل ته راځي، يا هم پېخوا راغلي، نو لومړی اړ دي، چې دري ژبه زده کړي، بيا به ايله دا توان ترلاسه کړي، چې پوهنتون ووايي. ګڼې د پوهنتون د لوړ قشر له خوا به ورباندې رېشخند ووهل شي.

د کابل پوهنتون ځينې استادان همدا اوس شعوري هڅه کوي، چې پښتو يوه محکومه او له پوهنيز ډګر څخه وروسته پاتې ژبه وښيي. په اوسنيو زياتو استادانو کې د تعصب جنبه قوي او غښتلې ده ، زيات پښتانه محصلين ترې سر ټکوي. کوم محصل د پوهنتون له ښوونکي څخه په پښتو پوښتنه کړې وه. نو استاد ويلي وو: به زبان انسانها ګپ بزن ![د انسانانو په ژبه خبرې وکړه !؟؟].

که د ښوونځيو خوا ته پام واړوو ، په کابل کې له رحمان بابا او خوشحالخان لېسو پرته چې په پښتو يې تدريس کاوه ، بله لېسه نه شته او نه وه چې پښتو دې په کې تدريس شي، دلته هم لويه ستونزه دا ده چې ماشومان هم اړ دي، لومړی دري ژبه زده کړي، بيا ښوونځيو ته د تګ اړتيا پيدا کولای شي. همدا اوس هم هغه ماشومان او زده کوونکي چې پښتانه دي د خپلو ښوونکو له توند ضديت او رخې سره مخ دي. پښتانه زده کوونکي ځورول کېږي، پوزخند ورباندې وهل کېږي، په قصدي ډول ناکامه کېږي، د استعداد مخنيوی يې کېږي او سمه وده نه ورکوي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل د پوهنې (معارف) وزارت همدا اوس د دویم ټولګي زده کوونکو ته د افغانستان یوه نقشه چاپ کړې، چې افغانستان یې پر دریو برخو وېشلی دی. دغه وزارت په دې ډول غواړي، د زده کوونکو په ذهنونو کې د وېشل شوي افغانستان انځور ژوندی وساتي.

د دغه وزارت اداري رئیس ته کوم خبریال ورغلی و، هغه په دري ژبه مرکه کړې وه، کله چې خبریال ترې غوښتي وو، چې همدغه خبرې په پښتو وکړي. نو هغه ورته ویلي وو:

په ما که په روسي ژبه خبرې کوې، روسي درته وایم، خو پښتو نه وایم ! !؟

ښایي په یوه ټولنه کې یو لړ کلتوري او ټولنیز ارزښتونه د ټولنې د پرمختګ په اوږدو کې یا له منځه لاړ شي، یا به هم له منځه تللي وي. خو ژبه چې د فرهنګ یوه ستره او مهمه برخه ده، د تل لپاره د قوم له انکشاف سره سمه پرمخ ځي.(2)

خو په هغه ټولنه کې چې د پوهنیزو مرکزونو او بیا ستر پوهنیز وزارت له خوا د ملي ژبې د سپکاوي او د پرمختګ د مخنیوي هڅه کېږي، رښتیا چې د بدمرغۍ او اندېښنې وړ خبره ده.

له بده مرغه پښتو تراوسه پورې د وخت دربارونو ته لازمه لار نه ده موندلې، نه یوازې ځای نه دی ورکړل شوی، بلکې د حکومتونو او نورو ټيټ رتبه چارواکو له خوا ځپل شوې، ریشخند ورباندې وهل شوی، د پرمخیون پر لاره یې کندې کیندل شوي، ستر، مهم او ارزښتناک کتابونه یې سوځل شوي دي.

زیات پښتانه چارواکي، ستروا کي او ټولواکان تېر شوي، چې له اره به پښتانه وو، خو په خپله یې په پښتو خبرې نه شوای کولای. د ظاهرشاه په وخت کې پر دولتي مامورینو دا شرایط کېښېښودل شول، چې په پښتو او دري ژبو باندې باید لیکل او لوستل وکړای شي. د دې کار لپاره ځینې زده کړېځونه (کورسونه) هم جوړ شول، چې پښتو یې تدریسوله، خو په دغو کورسونو کې هغو کسانو تدریس کاوه او لوست یې ورکاوه، چې مسلکي نه وو، یوازې به یې یو څو پښتو توري زده کوو، له دې کبله دا بهیر هم تر لږ ځنډ وروسته شنډ شو او کومه مثبته پایله یې ورنه کړه. له دې کبله د وخت په تېرېدو سره د حکومت توجه هم ترېنه واوښته او دومره جدي یې ونه نیوله، یوازې یې اعلاني او شعاري جنبه قوي وه.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې طرحې د عملي کولو لپاره نه کومه ځانګړې بودجه بېله کړای شوه، نه یې هم مسلکي او پاخه کسان وګومارل شول. خو د پښتون ضد ډلو په زړونو کې یې کینه نوره هم توده او اورنی کړه، چې تر اوسه دغه ضدیت پالي.

که لږ شاته لاړ شو او د افغانستان تاریخي بهیر ته یوه کتنه وکړو، ښایي را ته څرګنده شي، چې یوازې څو د ګوتو په شمار مشرانو پښتو پاللې او د دربار ژبه یې ګرځولې، یا یې هم سالمې ودې ته پاملرنه کړې ده.

د هوتکو د پاچاهۍ له دوران سره همزمان د افغانستان په ختیزو برخو کې د خوشال بابا (1032-1100هـ ق) لمسي او د اشرفخان هجري زوی (1044-1106هـ ق) افضلخان خټک (1075-0053هـ ق) د خپل ریاست په دوران کې د پښتو د بقا لپاره شعوري هڅه کړې ده. ده زیار ایست چې د دري او عربي مشهور کتابونه په پښتو وژباړل شي. ده نه یوازې نور فرهنګي خلک دې کار ته هڅول، بلکې خپله یې هم اثار لیکل او ترجمه کول. د ده په هڅه او تشویق د پښتو د لرغوني نثر ذخیرې بډایې شوې دي.(3)

په خپله خوشال بابا خو د پښتو پلار و، چې د خپلو سیاسي هلو- ځلو او جګړه ییزو مهارتونو ترڅنګ یې پښتو هم پالله، ده د لومړي ځل لپاره د خپلو زامنو په مرسته د پښتو لیکدود د نوي کولو هڅه وکړه، پښتو یې په سیمه او هېواد کې دود کړه، پښتو ته یې حماسه وردننه کړه، پښتو ته یې د شعر په ژبه طب وردننه کړ او د پښتنو د ننګ او پت ساتنې روحیه یې په خپله شاعرانه دنیا کې ونازوله.

د مغلي تاړاک او یرغلونو توندو څپو، که له یوې خوا دغه پښتنې سیمه تر ګواښ لاندې نیولې وه، له بلې خوا د خوشال بابا کورنۍ غاښن ماتوونکي ځوابونه ورکول، چې د تورې او قلم ژبې یې ډېرې تېرې وې، له همدې کبله یې پر دښمن کاروونکي ګوزارونه کول.

خو تر خوشال بابا وړاندې روښاني دور هم همدغسې یوه غني دوره وه، سره له دې چې دغه غورځنګ د مغلو له جګړو څخه په امان کې نه و، خو بیا یې هم د تورې او قلم ډګر تش پرې نه ښود.

بایزید روښان (1525-1858م مړ) چې کله د میرې او پلار له توجه څخه محروم شو، غوښتل یې زده کړه وکړي، له همدې کبله له کوره ووت او په زده کړې پسې روان شو، بیا یې تصوف ته مخه شوه،

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه کاله یې په یوه کوټه کې ریاضت وکړ. هغه د سترو امپراتورانو پرضد جګړې ته ملا وتړله او د پښتنو په ملاتړ یې توره واخیسته. د ننګرهار په تور راغه کې جګړه وه، پیر روښان پوځ ماتې خوړلې وه، دی په هغه توند ه ګرمۍ کې پر تورو غرونو او وچو راغو روان و، چې جل وواهه او کلپانې ته لـه رسېدو سره سم ومړ. خو تر ده وروسته د ده زامنو د مبارزې ډګر تود وساته.

پیر روښان پر خپل سیاسي شخصیت سربېره پښتو ته ځینې ګټور اثار هم وړاندې کړل. لکه صراط المستقیم، خیرالبیان، حالنامه، مقصودالمومنین، مخزالطالبین او مکتوبات، چې خیرالبیان یې تر ټولو زیات نوماند اثر دی.

که څه هم دغه اثار خپل دیني او اسلامي ارزښت لري، د تصوف او عرفان له پلوه یې هم اهمیت د پام وړ او په پښتو کې لومړني اثار ګڼل کېږي.

هر ملت حق لري د خپلې ملي ژبې د خدمت لپاره لاس په کار شي، خپلې ژبې ته خدمت کول د تعصب مانا نه لري، زیات پښتانه خو د مضر احتیاط لـه مخې خپله ژبه نه کاروي، نه پرې خبرې، نه لیکنه کوي. همدا اوس هم که په یوه مجلس کې لس پښتانه ناست وي، د یوه دري ژبي یا اردو ژبي لپاره دغه پښتانه دري یا اردو وايي. چې دغه بې انصافي په خپله یوه زیان رسوونکې موضوع ده، چې پام نه ورته کېږي. سید جمال الدین افغان که یوه پښتو جمله لیکلای، نن به ایرانیانو ورباندې دعوه نه کولای، ایراني به یې نه باله. اوس هم که پښتانه د خپل هویت غوښتنه لري او غواړي چې د ژبې په لحاظ ژوندي او مطرح وي، باید د خپل هویت د ځلونې لپاره هراړخیزې هڅې پیل کړي، د تشو شعارونو پرځای دې عملي کار ته ملا وتړي.

د امیر عبدالرحمان خان په دوره کې هم د پښتو د ودې او انکشاف د ضرورت احساس موجود و، په دغه دوره کې هم ځینې کتابونه په پښتو ژباړل شوي دي.(4)

دغه ژباړل شوي اثار د پښتو کتابونو په کتار کې ځانګړی ارزښت لري، چې لومړنۍ هڅې ګڼل کېږي. ځکه د حکومت او مشرتابه خوا پښتو، که دومره پالل شوې نه ده، ځینو مشرانو د خپل ملي احساس لـه مخې د دغې خوارې ژبې لپاره د خدمت لېخې رانغښتې دي.

مخکې هم وویل شول چې د دربار ژبه تر ډېره وخته پاړسي وه، لیکونه، فرمانونه، غوښتنلیکونه او عریضې به په پاړسي لیکل کېدې، له بده مرغه همدا اوس هم ځینې پخواني میرزایان، پرته لـه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خپلې لیکنې په بشپړه مانا پوه شي، اسناد، لیکونه، وړاندیزونه، عریضې او نورې پاڼې په پاړسي لیکي. کله چې سړی کوم کور رانیسي، یا ځمکه پېري، نو پېرودونکي او معامله ګر خپله قباله په پاړسي لیکي. چې تر اوسه یې د ژباړې هڅه نه ده شوې. که څوک یې په پښتو واړوي، دوی ته د حیرانۍ وړ برېښي، یو پښتون اوس بل پښتون ته په پاړسي عریضه لیکي او دا ورته یو دودیز روایت پاتې دی، باید ویې پالي. په هر صورت؛ زموږ د موضوع اړخ د پوهنیزو هڅو یادونه ده، چې د پښتو لپاره شوې دي.

که څه هم د افغانستان لپاره نوی درسي نصاب جوړ شوی او همدا اوس یې تدریس روان دی، خو بیا هم نړیوال معیارونه په کې په پام کې نه دي نیول شوي، په نړۍ کې د شاګردانو ذهني سویې، ذوق، غوښتنو ته په پام سره کتابونه خپرېږي. د دې تر څنګ د حالاتو غوښتنه او تقاضا هم په پام کې نیول کېږي. هلته د وخت له کاروان سره سم او برابر تګ کېږي، خو په پښتونخوا کې بیا د ډیورنډ کرښې دوه مره ستر ناتار جوړ کړی، چې پښتانه یې په خپل کړ کې سره وېشلي، په خپلو کې یې په جګړه اچولي او خپل ترمنځ یې اختلافات کرلي دي، خو د انسان د لاس ورغوی هم کرښې لري، دغو کرښو د انسان لاس نه دی ټوټې کړی، دغه خواره واره پښتانه بیا هم یو دي، یوازې د ناسمو حالاتو څپو سره ببل کړي، که چېرې د یوه واحد هېواد په توګه یې د خپلې ژبې د علمي کولو لپاره ګډه هڅه پیلولای، ولې به زموږ د لومړي ټولګي زده کوونکو دا ډول تدریس کاوه، چې:

یو او یو مساوي کېږي په دوو ګولیو (مردکیو).

دوه او دوه ټانکه شول، څلور ټانکه.

دغه ډول درسي نصاب د دې پرځای چې زموږ ماشومان زده کړې ته وهڅوي او په سالم بهیر کې زده کړه وکړي، پوهنیزه سویه یې اوچته کړي، ذهن ته یې د جګړو او شخړو صحنې دروي، د دې پرځای چې علمي او پوهنیزو موندنو، پلټنو او څېړنو ته یې وهڅوي، لا یې د وروسته والي لامل ګرځي. له ماشومتوبه یې ټوپک، شوبله (ټانک) او ګولۍ په ذهن کې ځای نیسي.

د پوهنتون لپاره چې په لومړي ځل غوره پښتو کتابونه وړاندې شول، هغه په دې وروستیو وختونو کې د ځینو بهرمېشتو له خوا د یو لړ غوره پوهنتوني کتابونو خپرول وو، چې له غوره پوهنیزو معیارونو برخمن وو. لکه: د هضمي جهاز انډسکوپي (ډاکټر محمد شریف ظریف)، طبي میکروبیولوژي (پوهنوال دوست محمد دوست)، د هضمي ملحقاتو د جراحي ناروغیو اساسات

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پوهاند دوکتور شېرزاد یعقوبي)، د داخله ناروغیو اساسات (ډاکټر محمد ابراهیم شینواری)، د افغانستان د طبیعي سرچینو پېژندنه (پوهنوال محمد بشیر دودیال)، ګام پر ګام له خوشال سره (محمد اصف صمیم)، انتاني ناروغۍ (داکټر عبدالناصر جبارخېل) او داسې نور... چې هر یو یې ستر ارزښت لري، چې د شملې پېړۍ په پای او د یوویشتمې په پیل کې دغه ارزښتناک او ګټور اثار په پښتو ولیکل شول بیا خپاره او وویشل شول، چې اکثره سرچینې او اخځونه یې نور بهرني کتابونه یا مسلکي خپرونې وې.

په همدې وروستیو کلونو کې ځینې داسې پښتو خپرونې هم راووتې چې د یوه ځانګړي مسلک لپاره ببلې شوي او ځینې ځانګړې لیکنې خپروي، لکه نجات، کمپیوټر ساینس، کرنه، کابل پوهنتون او نورې... چې زیاترو یې پوهنیز مسایل خپرول، یا به یې هم ځینې نورې بهرنۍ لیکنې راژباړلې، چې په لږه موده کې یې زیات مثبت اغېز پرځای پرېښود. دغو ګټور هڅو او کارونو پښتو، په دې نوي پړاو کې له ساینس، طب، ټکنالوژۍ، طبیعي پوهنو او نورو څانګو سره لا غاړه غړۍ کړه. چې اغېز به یې تر ډېره پاتې وي او هیله ده چې دغه ډول نور پوهنیز کتابونه او خپرونې لا زیاتې شي او د بندېدو مخه یې ونیول شي.

دغه یاد شوي کتابونه د لومړي ځل لپاره پوهنتونونو ته ولېږدول شول، چې زیاتو محصلینو ته یې اسانتیا برابره کړه، ځکه زیاتو محصلینو په خپله ژبه کې د یوه پوهنیز او پوهنتوني کتاب درلودل ستره اړتیا ګڼله، خو لکه څنګه چې ښکاري په اوسني حکومت کې دغه کتابونه په ډېرو پوهنځیو کې د استادانو له خوا له تدریسه پاتې شول، پرځای یې ایراني او یا هم هغه کتابونه دود کړل شوي، چې پنځوس شپېته کاله وړاندې لیکل شوي او له اوسني وخت سره هېڅ سمون نه خوري.

کابل پوهنتون مجله بنده کړای شوه، همدا اوس اکثره پښتانه محصلین چې په کابل یا هرات پوهنتونونو کې زده کړه کوي، له استادانو او اړوندو چارواکو سر ټکوي، چې پر پښتو او پښتنو سپکاوی کوي. د هرات پوهنتون زیاتره محصلین اړ شوي چې ځانونه تاجک معرفي کړي، په شپه ځای (لیلیه) کې یې هم د ځپلو او سپکولو لړۍ روانه ده، خو یوازې په یوه خونه کې څو تنه پښتانه اوسېدل، هغه هم د یو بل په اتفاق سره توانېدلي وو، هلته ځان ته ځای ومومي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې د غه ډول نور پوهنیز او پوهنتوني کتابونه، څېړونې او مجلې چاپ هم شي، که چارواکي او اړونده مسئولین یې مخه ونیسي، بیا هم بې ګټې کار دی، نو چارواکو ته وړاندیز کیږي، چې پښتو ته باید خپله برخه او روا حقوق ورکړي.

په کابل، سرحد سوبه، کوټه او نورو پښتون مېشتو سیمو کې دې پښتو ښوونځي پرانیستل شي، پښتو کتابونه دې په کې تدریس شي، د پوهنتون لپاره دې هم پښتانه استادان وټاکل شي، چې هر پښتون په خپله ژبه د درس ویلو او زده کړې حق ترلاسه کړي. که داسې نه کیږي، دا په خپله د یوه لوی ډېرکي پر روا حقوقو سترګې پټول دي. تاسې وګورئ، هغو چارواکو چې پښتنو ته یې د هغوی خپل حقوق ورکړي او هغوی یې پالللي، نه یوازې محبوب او په خلکو کې د منلو وړ دي، بلکې هر وخت یې د ملي احساس او د ملت جوړونې په برخه کې د ګټورو اقداماتو یادونه کیږي.

امیر حبیب الله خان په خپله دوره کې د پښتو د ودې او پراختیا لپاره زمینه برابره کړه، ځینې اخبارونه یې راوایستل چې پښتو شعرونه او پښتو نثرونه به یې خپرول، د هغه مهال اساسي قانون او نظامنامه هم پښتو شوه، چې هم یې عام ولس ته د لوستلو او پوهېدو اسانتیا برابره کړه، هم یې اغېز زیات شو.

ځکه هر سړی چې په خپله ژبه کې مطالعه، زده کړه او څېړنه وکړي، هومره هوسا وي. پښتانه تر اوسه چې دعا کوي، یوازې امین وایي.تر اوسه د کابل په جوماتونو کې د حافظ، سعدي او نورو ... کتابونه لوستل کیږي، پښتانه ماشومان د ماشومتوب له لومړیو کلونو اړ دي چې پارسي زده کړي او ویې کاروي. تر اوسه لږ ملایان پیدا کیږي، چې د رحمان بابا ، شعرونه، خیرالبیان او نور پښتو دیني کتابونه تدریس کړي.

پرېشان خټک خو باور لري، چې پښتانه په درېیم نسل ختمیږي، د پښتون زوی نیمه پښتون وي، خو لمسی یې د بلې ژبې (اردو ، پارسي) ویونکی شي. په دې توګه یې یو ژوندی نسل ختمیږي. نو که چیرې په مسجد ، مدرسه، ښوونځي او پوهنځي کې د پښتو ونډه او حقوق له پامه ونه غورځول شي، ولې به پښتانه اردو او پارسي ته مخه کوي، بلکې خپله ژبه به هم ورته ژبه ښکاري، هم به پرې زده کړه کوي، هم به ترې ګټه اخلي.

په اوسمهالي (معاصر) تاریخ کې په لومړي ځل د امیرشیرعلیخان د سلطنت په دوره کې پښتو ته پاملرنه وشوه، هغه اصطلاحات او مسلکي نومونه چې هغه وخت پښتو ته اړول شوي، تر اوسه دود

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چې لوستي او نالوستي وربانديې پوهېږي او په خپل ورځني ژوند کې يې کاروي. د داود خان منل شوې ملي ټرمينالوژي او پخواني منل شوي پښتو اصطلاحات چې په ولس کې دود شوي او منل شوي دي د اوسني حکومت د ځينو اړوند چارواکو له خوا په شعوري ډول بدلېږي، د حقوقپوه پرځای حقوقدان، د پوهنځي پرځای دانشکده، د پوهنتون پرځای دانشګاه، د محصل پرځای دانشجو، د سرې مياشتې پرځای هلال احمرافغاني، د اطلاعاتو او کلتور پرځای اطلاعات و فرهنګ، دغه ډول د ځينو وزارتونو او رياستونو پخوانۍ پښتو لوحې اوس په پارسي وليکل شوې.

يوه فرهنګيالي په پوهنې وزارت کې دنده ترسره کوله، دوی ديوې بهرنۍ انجو په مرسته يو کمپاين پيل کړی و، چې د ښوونځي ماشومانو ته يې ځينې اعلانونه خپرول. د ښوونځيو ماشومانو ته يې يو اعلان درلود:

راځئ سبق ووايو.

بيائيد سبق بخوانيم.

دغه فرهنګي شخص لومړی پښتو بيا پارسي ليکلې وه، په همدې ګناه له دندې وشړل شو. يوه بل کس يادونه وکړه: د پوهنې وزارت چې د يوه هېواد ستره علمي سرچينه ګڼل کېږي او د يوه هېواد زړه دی، اوس د تعصبونو او کرکې مرکز ګرځېدلی، ان يو بل پښتون اديب يې يوه شپه او ورځ په دې ګناه بندي کړی و، چې پارسي يې نه وه زده.

اکثره پښتانه سرټکونه کوي، چې د دوی پرضد ټول عمر له تعصب او کرکې څخه کار اخيستل شوی او هر واکمن د خپل ذهن او دماغ يوه برخه ځواک په دې لګولی، چې پښتو او پښتانه وځپي، سپک يې کړي او له منځه يې يوسي. پښتانه تل د زبرځواکونو او ښکېلاکګرو، زبېښاکګرو د توري په سيوري کې ساه اخيستې، خو که دوی د خپلو روا حقوقو د ترګوتو لپاره چغه پورته کړې، نو د متعصب، بې فرهنګه، ناپوه او غدار په نومونو تورن شوي دي. څرګنده نه ده چې دغه بدمرغه او توره لړۍ به تر کومه وخته پورې روانه وي، تر کله به پښتانه ځپل کېږي. نور نو په کار ده چې پښتانه خپل اصليت، تاريخي وياړ او ملي- وياړلي کلتور ته په پام سره ځانونه وپېژني او د ځان تر پېژندنې وروسته د خپلې خوارې او ځپل شوې ژبې لپاره د کار و زيار ملاوې وتړي. نور نو بايد د پښتو د علمي کولو لپاره اغېزناکې او ګټورې هڅې پيل شي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په فرهنګي ډګر کې:

اد اوسنیو پرمختللو څېړنو او عیني واقعیتونو له مخې دا ټکی باید ومنو، چې پښتو د اسیا له هغو مهمو ژبو څخه ده، چې د شتوالي تاریخ یې د اسیا په یوه ډېر مهم، لرغوني او تاریخي کام (پښتنو - پټانانو - افغانانو) پورې اړوند دی.(5)

پښتو لرغونې او تاریخي ژبه ده، چې ان تر اسلام مخکې یې هم په ځینو کتیبو، ځلیو او کتابونو کې ځرک لګېدلی دی او څرګندوي چې دا ژبه تر زیاتو نورو ژبو اوږده سابقه او تاریخي شالید (پسمنظر) لري. خو د نېکمرغۍ ځای دا دی، چې پښتو یوازې ژبه نه، بلکې پښتو قانون دی، پښتو ځلی او نرخ دی، پښتو قسم- ژمنه، هوډ او پښتو یو بشپړ کلتور دی.

دا اوس هم په کوزه پښتونخوا کې بې پښتو، پښتنو ته د پنجابي خطاب کېږي. خو پښتو یوازې په ژبې پورې محدوده نه ده، هغه څوک چې پښتو ویلای شي، هغه پوره پښتون نه شي کېدی، بلکې سوچه پښتون هغه دی، چې د خپل ننګ او ناموس د ساتنې لپاره خپل سر هم قربانوي، سخاوت لري، د نورو لاسنیوی کوي، ژمنه او قسم نه ماتوي، خپل ځانګړي کلتوري ارزښتونه ساتي.

که پښتو یا بله هره ژبه هرڅومره تاریخي قدامت او لرغونتوب ولري، لري به یې، د ژبې اوسنی حالت باید په پام کې وساتل شي.

د ژبې پر لرغونتوب او قدامت باندې ډېر ټینګار به ډېرې جدي او علمي خبرې نه وي، ضروري خبره دا ده، چې د دې ژبې اوسني او راتلونکي منظر ته جدي پام وشي.(6)

هسې خو زیاتې ژبې شته او وي به، چې یو وخت به په یوه لویه وچه کې ویل کېده او زیات لرغونتوب به یې هم درلود. خو د وخت په تېرېدو سره له منځه تللي دي.

څرګنده خبره ده، د هرې ژبې ویونکي چې خپله ژبه له لاسه ورکړي، خپل کتلوري ارزښتونه هم له لاسه ورکوي، غوره بېلګه یې په هند کې په ملیونونو مېشت پښتانه دي، چې له خپل نوم سره یوازې (خان) لیکي، خو نه یې خپله ژبه زده ده، نه هم ورته ارزښت لري. ان چې بودا ایيزم او هندوییزم پالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو کې د داسې کتابونو ژباړې ته اړتیا ده، چې په کلتوري برخه کې زموږ له ټولنې سره ټکر ونه لري، د انقلاب په کلونو کې پښتو ته داسې روسي کتابونه راوژباړل شول، چې له ټولنې او د ټولنې له روحیاتو سره یې هیڅ سمون نه خوړ، اوس هغه کتابونه د وخت په تېرېدو سره د تاریخ کندې ته ولوېدل، د خلکو زړونو ته یې لار ونه مونده.

یو شمېر ژبې د خپلې بشپړتیا او لوړې وړتیا له امله د زمانې په زړه کې د مختلفو عواملو او یا د ودې د قانونمندۍ له مخې په نورو ژبو او یا زماني حالاتو کې یا خورې شوي او یا هم له منځه تللې دي. لاتین په څه ډول برخلیک اخته شوه، سانسکرېټ ولې اوس "کلاسیکه "ژبه شوه، په اریایي ژبو کې "اوېستا "ولې له خپلو همزولو ژبو (پښتو- پاړسي) سره تر ننه راونه رسېده؟(7)

د یونسکو د کتنې له مخې پښتو هم په هغه ژبو کې شمېرل شوې، چې په راروانو کلونو کې به له منځه ځي او ویونکي به نه لري. دا په داسې حال کې چې محمد ګل خان مومند، کابل د پښتنو هدیره ګڼلې و، خو زه هرات هم د پښتنو بله هدیره ګڼم. هلته د پښتنو یوه لویه ولسوالي شته، چې پښتون زرغون نومېږي، ما په ټوله ولسوالي کې ولیدلې، یوازې له څو کوچیانو پرته، بل چا په پښتو خبرې نه شوای کولای. همدا به یې ویل: من به پشتو بلد نییم.

په کابل کې هم اکثریت پښتانه دي، خو په ښار کې د ننه تر 50 سلنې زیاتو پښتنو خپله ژبه هېره کړې ده، هم یې کلتوري ارزښتونه بایللي، ځکه چې جامې، دود و دستور یې هم د ښاریانو غوندې کړې دي. یوه بل استاد ویلي وو: پښتانه هغه خلک دي، چې په ښارونو کې ځانونه ورته کلیوال ښکاري، خو په کلي کې ورته ځانونه ښاریان.

یو خو مشرتابه په شعوري توګه غواړي چې پښتانه تر یو ډول کلتوري حاکمیت لاندې وساتي، له دې کبله هغه پښتانه چې په پښتو نه پوهېږي، ډېر نازوي هم. په دې وروستي اړ و دوړ او اله ګولو کې خو زیاتو پښتنو د مرګ له وېرې داسې تذکرې واخیستې چې تاجک معرفي شوي وو. له بده مرغه اوس بیا هم دغه کلتوري حاکمیت ژوندی دی او زیات پښتانه ځانونه تاجکان معرفي کوي.

په هرات کې خو د ایران مضر کلتوري ستم واکمن دی، هغه څوک چې په لومړي ځل هرات ته ورځي، ګومان کوي د ایران کوم ایالت ته ورغلی دی. خبرې- اترې، لوحې ګرځنه او نوره راکړه ورکړه په ایرانۍ ژبه او ایراني دود سره ترسره کېږي.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان چې هلته د پښتو څرک نه هم نه ترسترګو کېږي، يوازې يوڅو د ګوتو په شمار لوحې په پښتو ترسترګو کېږي، چې هغه هم لـه پخوا څخه پاته دي. منل شوې ملي ټرمينالوژي خو قصداً لـه منځه وړل شوې ده، د درملتون پرځای اکثره ځايونه دواخانه ليکل شوې، د مارکېټ پرځای پاساژ، چې ښايي د هرات لس فيصده خلک هم ورباندې پوه نه شي. د اطلاعاتو او کلتور لـه رئيس سره مې ځانګړې ناسته درلوده، ما ترې وپوښتل چې په هرات کې ولې د پښتو خپرونو څرک نه ترسترګو کېږي؟

هغه وويل: موږ شل فيصده ونډه ورکړې، خو ما پر مېز باندې پراته اخبار ته اشاره وکړه، چې ولې يو ټکی پښتو هم نه لري؟ هغه د خپلو ورپېښو ستونزو يادونه وکړه.

هغه ستونزه چې د يوه چارواکي لپاره به زياته وړه وي، ايران د خپلو کلتوري ارزښتونو د دودونې او پراختيا لپاره په مليونونو ډالره لګوي او په سيمه کې زيات تخريباتي عمليات ترسره کوي. دغه هېواد لـه څو لسيزو راهيسې همدا هڅه کوي، چې افغانستان د ايران اړونده خاوره وښيي، په دې برخه کې يې زيات کتابونه هم خپاره کړي او اوس هم د (خراسان) خوبونهويني، همدا اوس ايران او د ايراني مفکورې درلودونکي تاجکان په انټرنټ کې دومره مضر مواد خپروي، چې د پښتنو سپکاوی او د يراني کلتوري ستاينه په کې شوې ده.

د يوې ټولنې د ليکوالو د اثارو په لوستلو سره موږ ته د هغې ټولنې کلتوري او ذوقي کچه، همدغه راز ژوندود راڅرګند ېږي.(8)

خو پر پښتو توره ورځ ځکه راغلې، چې لـه هر سياسي او نظامي اوښتون يا بدلون سره سم يې د لـه منځه وړلو کوښښ شوی، د پښتو د غني فولکلور لپاره هم پلانونه سنجول شوي، چې مسخ شي. پښتني کلتور په يو نه يو ډول، منفي معرفي کړي. ويې غندي او سپکاوی يې وکړي. پر همدې موضوعګانو يوشمېر کتابونه هم خپاره شوي، دغه ډول کتابونه زياتره په ايران کې د هغو افغانانو لـه خوا خپاره شوي، چې ملي ضد او پښتني ضد مفکوره لري. ايران ان ځينو پښتنو ليکوالو ته هم ښې غوړې پروژې په ګوته کړې، چې هم پښتانه، پښتو او پښتني- کلتوري ارزښتونه بدنام کړي. هم لـه دې لارې ځان ته پيسې وګټي.

نړيوال به د دغه ډول اثارو په کتلو- لوستلو او څېړلو سره پښتانه څنګه وپېژني. د غرب زيات کليوال چې کله د افغانستان يا پښتونخوا په اړه څه ليکي، نو خامخا به د پښتنو ژوند ، کلتوري، ژبه او

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونه هم یادوي. دوی اکثره پښتانه د منفي کرکټر په توګه پېژني او عقیده لري چې دغه خلک له تعلیم او سواد څخه محروم- قبیلوي خلک دي، چې نه کوم مشخص کلتور او دود و دوستور لري. نه یې همد ژبې قدامت شته. زیاتره بهرني لیکوال چې کله غواړي د افغانستان د اتنیکي (قومي) جوړښت، دود ، کلتوري رواجونو او روایاتو په اړه څېړنه کوي، نو د پوهنتونونو ښوونکو ته ورځي، په ځینو پوهنتونونو کې داسې ښوونکي هم درس ورکړي، چې ځانګړې سیاسي ایډیولوژي، موخې او تکلونه لري، چې یو ستر هدف او د زیاتو کلونو ارمان یې له پښتنو سره ضدیت دی. ځینو ښوونکو هر وخت د پښتنو پرضد حساسیت ښوولی او د هرات–کابل له پوهنتونونو څخه یې پښتو ښځي ختمه کړې ده. څو کاله وړاندې چې د کابل پوهنتون مجله په پښتو او پارسي خپرېده، پر زیاتو کسانو اور لګېدلی و ، چې په دې مجله کې ولې پښتو لیکنې راځي، خو دوی بندولای ځکه نه شوه، چې د مجلې لګښت په بهر کې د مېشتو فرهنګیانو له خوا ورکول کېده.

یوه بل تاجکستاني لیکوال په خپل یوه پرېړ او پنډ کتاب (مقام تاجیکان در تاریخ افغانستان) کې چې هره کرښه یې له افغان او افغانستان سره د حساسیت او ضدیت څرګندویي کوي، پښتانه له غرونو او رغونو څخه راتویې شوې قبیلې ګڼي، چې ستره دنده یې لوټماري، غلا او شوکماري ښوول شوې. دغه خلک یې په کلتوري لحاظ ټیټ او پست معرفي کړي دي.

دومره کلتوري ارزښتونه او معیارونه چې په پښتو او پښتنو کې شته، په ډېرو لږو کامونو کې موندل کېږي. په کوم کام کې تر شریعت وروسته ناغه شته؟.

په کوم کام کې جرګه او مرکه شته؟.

په کوم کام کې د مشرانو له خوا د روغې جوړې نه ماتېدونکي څلي او نرخونه جوړ شوي ! پښتانه غني کلتور لري او غني خو به ځکه وي، چې زیات کلتوري مسایل یې له اسلام سره په ټکر کې نه دي.

پښتانه ځانګړي کالي، ځانګړې رزمي نڅا (اتڼ)، ځانګړی لیکدود ، ځانګړی دود و دستور لري، چې هر ارزښت یې د ویاړ او افتخار یو ستر باب دی. مخالفین خو به یې خود د ورکاوي او تتولو کوښښ کوي، چې له دغو ارزښتونو بې برخې دي. که چېرې د اوسني پښتني نسل سترګې خلاصې نه شي او په پښتو، پښتنو، پښتني کلتور، پښتني ادب، پښتني فولکلور او پښتوپالنې پوه نه کړای شي، په نورو کلتورونو کې به ورک او نوم به یې د تل لپاره د نړۍ له منځه ورک شي. زما په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتني ضد کتابونه او لیکنې هم باید پښتو ته وژباړل شي، چې پښتانه یې ولولي او د مغرضو انسانانو په موخه ځانونه وپوهوي. که چېرې ځینې پوهان او روڼاندي دا کار مضر ګڼي، نو لږ ترلږه دې په نورو ژبو لاسبري او ماهر کسان، دغه ډول لیکنې ولولي. هغه مهم ټکي دې ترې راوژباړي. یوه- یوه کاپي دې لویو لیکوالو ته ولېږي، چې هغوی یې ځواب ولیکي، ځکه تر دې ګړیه چوپې خولې کومه نتیجه نه ده ورکړې، ټول پښتانه د پښتو او پښتنو پرضد لـه لیکل شویو او خپرو شویو لیکنو، کتابونو او رسالو څخه ناخبره پاته شوي، چې دغه غفلت او ناخبري دوی ته په زیان ده.

یوه روسي لیکوال ایتماتوف په خپله یوه مرکه کې ویلي وو:

هر ادبیات که غواړي پرمختګ وکړي، باید په ټینګو ایډیالوژیکو اصولو یې لاروښوونه وشي، یوازې لـه همدې لارې پر خپلو تشو (خلاګانو) غلبه کولای شو او لـه فکري محدودیتونو رابهر کېدی شو. فکري محدودیت د انسان پردیتوب دی.(9)

په هغه ټولنه کې چې انساني پردیتوب او کلتوري خلاوې زیاتې وي، ملت جوړونه او ملي یووالی هم لـه ګواښ سره مخ وي، کلتوري څرنګوالی د یوه هېواد د ملي هویت، ملي مفکورې، عقدې او اند و هاند څرګندويي کوي.

ستونزې او کړاوونه خو په هره برخه کې شته او هېڅ کار لـه زیار یا کړاو پرته پرمخ نه ځي، هغه کار او هاند ښه لاسته راوړنه لري، چې اشخاص پرې ژور سوچ وکړي او لـه عقل څخه مرسته وغواړي. په لویدیزه (شرقي) نړۍ کې د عمومي ابلاغ یا د ډله ییزې مفاهمې موسسې د پانګه والو په پانګو چلېږي، نو باید پانګوالو ته لږې یا ډېرې، مادي ګټې ورسوي.(10)

پانګوال هم باید لـه خپل کلتور، ژبې او ملت سره اشنا شي، چې د پالنې لپاره یې قربانۍ ته تیار شي. د کلتوري انحرافاتو او پر پښتو باندې د کلتوري سپکاویو مخه هغه وخت نیول کېدی شي، چې عام ولس پر خپلو کلتوري ارزښتونو وپوهول شي او هغه د چا خبره سترګې یې خلاصې شي، لومړی خو باید خلک د سواد لـه نعمت څخه برخمن شي، بیا دې ډله ییزې رسنۍ: ورځپاڼې، مجلې، راډیوګانې، ټلویزیون او نور مطبوعات زیات کړل شي.

ښایي دولت او حکومت د دغه کار د ترسره کولو وس ونه لري، یا هم ترې اوږه خالي کړي او غاړه ورته کښېږدي. خو کـه شخصي ټولنې، ارګانونه او انجمنونه د پښتني کلتور د ساتنې لپاره یو لړ

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرونې پیل کړي، ګټه به یې ډېره زیاته وي، ځکه چې دغه خپرونې تر هره ځایه رسېدی شي، هرڅوک یې لوستلای شي او ښه ترا ورباندې پوهېدای شي، ځکه چې عام ولس په خپله ژبه د خپل کلتور له اړخونو خبرېږي. همدا اوس عام ولس چې تل د نورو ژبو د ویونکو، پنجابي ښکېلاک او پاړسي زبېښناک له خوا رټل شوي، سپک شوي او کوټل شوي، ډېره تنده لري، چې په خپله ژبه څه ولولي، دوی له خپلې ژبې، کلتور او ادب سره مینه لري.

که هر څومره د پښتو د ورکاوي او سپکاوي لپاره ځینې کسان استخدامېږي. معاشونه ورکول کېږي او طرحې په لاس کې ورکول کېږي. خو پښتانه بیا هم د هر تاړاک، اوښتون او ځپلو له کبله لا ویښېږي، ځکه چې پښتانه له پښتو ژبې او پښتني کلتور پرته بل الترناتیف یا بدیل نه لري. لاس که ماتېږي غاړې ته لوېږي، پښتون که سپکېږي، پر کلتوري ارزښتونو یې ملنډې وهل کېږي، همدغه پښتانه یې باید د ژغورنې لپاره متې رابډ وهي.

په پښتو کې باید د نورو هېوادونو په کلتور پورې اړوند کتابونه و ژباړل شي، چې د هغوی له غوره تجربو څخه ګټه پورته شي او منفي اړخونو ته یې په پام سره پښتني کلتور ته بیا کتنه وشي، همدغه راز یې سمونه وشي.

## په هنري ډګر کې:

د پښتو هنري برخه لکه: تیاتر، فلم، سینما او ... کمزورې ده، په پېښور کې داسې پښتو فلمونه جوړېږي، چې یوازې یې موخه پیسې ګټل دي، دغه فلمونه غیراخلاقي، فاسد او په هنري لحاظ ټیټ دي، چې هېڅکله هم د پښتني کلتور او پښتني دود و روایتونو استازیتوب نه شي کولای. پښتو ډرامه خو یو وخت ښه په خوند سره روانه وه، چې زیاتو استادانو وده ورکړې وه، خو دا وخت نه یوازې لږې لیکل کېږي، بلکې ژباړې یې هم نه کېږي.

دا مهال بهرني ټلویزیوني چینلونه دومره زیات دي، چې 24 ساعته خپرونې لري، چې زیات خلک یې ځان ته رامات کړي، دغه بهرني چینلونه یوازېنی کار دا کوي، چې خپله ژبه زیاته ترشعاع لاندې نیسي او غواړي د نړۍ په هر ګوټ کې یې ودود کړي، ویونکي یې زیات کړي او پراختیا ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په روسي چینلونو کې اکثره اروپایي او نور انګرېزي فلمونه په روسي ژباړل کېږي، چې یو ټکی انګرېزي هم نه خپروي، دغسې انګرېزي چینلونه بیا نورو ژبو ته وخت نه ورکړي. بلکې زیات هنري فلمونه په خپله ژبه ژباړي. ځکه هغوی د خپل هېواد د ژبو ویونکو ته په پام سره خپرونې کوي. هلته هېڅکله هم دغه اړخ له پامه نه غورځول کېږي.

زیات پښتانه اړ دي، چې همدغه بهرني او هغه کورني چینلونه وګوري، چې د دوی په ژبه نه دي، پر دوی باندې بهرنۍ ژبې هم اغېز کوي، زیاتو ماشومانو یې پښتو هېره کړې ده او پېژني یې لا نه.

که څه هم په کابل کې ځینې هندي فلمونه پښتو ته راژباړل شوي، خو د څومره والي له مخې لږ دي، بل دا چې اکثره یې 20-25 کاله پخوا ژباړل شوي، چې اوس نندارې ته وړاندې کېږي، له اوسني وخت، اوسمهالو غوښتنو او حالت سره سمون نه خوري. بلکې زړې کیسې کوي. په اردو کې اوسني انګرېزي یا د نورو ژبو فلمونه دوبله کېږي، سړی هېڅ ګومان نه کوي، چې دا دې په بله ژبه جوړ شوی فلم وي، دوی له څېرو او قوارو سره سم اوازونه ټاکي او د فلمي کرکټرونو د خولو له خوځولو سره سم متن لیکي، بیا یې ژباړه لولي، همدغه راز نور اوازونه هم ورسره یوځای کوي، چې څوک ګومان ونه کړي، دا د بلې ژبې فلم دی.

په کار ده چې پښتو ته هم دا ډول فلمونه راوژباړل شي، که څه هم تراوسه کوم پښتو چینل نه شته، چې دغه ډول فلمونه خپاره کړي، خو که بازار ته وایستل شي، ډېر رانیوونکي به ولري او ښه بازار به پیدا کړي. ځکه خلک ورته تنده لري او غواړي چې په خپله ژبه، بهرني شهکار فلمونه وګوري.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انټرنټ، یوه غوره وسیله:

انټرنټ په نړۍ کې د کار و بار یوه لویه او مهمه وسیله ګرځېدلې ده، چې ټوله نړۍ یې د یوه واحد نړیوال کلي Global village غوندې سره تړلې ده. د شلمې پېړۍ ستره لاسته راوړنه انټرنټ و. د انټرنټ په دود ېدو سره ګڼ شمېر خلک وزګاره شول، چې دغه وسیله د لسګونو او سلګونو کسانو کار په یوه وخت کې کولای شي.

د نړۍ نور ملتونه په خپل تاریخ، کلتور او ادب پورې اړوند کتابونه او نورې خپروې په انټرنټ کې ږدي، چې د نور خلک یې د نړۍ په هر ګوټ کې کتلای شي. پرته له دې چې کومه ستونزه وګالي، کولای شي ویې لولي، له ځان سره یې په خپل کمپیوټر کې خوندي کړي او لیکنه ورباندې وکړي.

له نېکه مرغه په دې وروستیو کې پښتو هم انټرنټ ته لاره موندلې، چې ځینې بهرمېشتي افغانان یې د لا تقویه کولو او ځواکمنولو لپاره کار کوي. اوس په انټرنټ کې پښتو وینډوز، پښتو لیکبڼې (فونټونه) او پښتو سیسټمونه شته، چې خلک که هرځای وي، خپل کمپیوټر ته یې راکښته کولای شي، پرته له دې چې کوم لګښت یا مصرف پرې راشي، خپل کمپیوټر پښتو کولای شي.

په دغو پښتو ویبپاڼو کې پښتو کتابونه، پښتو لنډۍ، شعرونه، تخنیکي لیکنې او نور مواد ځای کړل شي، چې د هرې میاشتې په تېرېدو سره پراختیا مومي او باور لرم. چې په نژدې کلونو کې به پښتو هم د نورو ژبو په کتار کې ودرېږي.

خو انټرنټ داسې وسیله ده چې د نړۍ په هر ګوټ کې یې خلک کارولای شي، باید سمه استفاده ترې وشي، هغه انګرېزي لیکنې دې ځواب شي، چې د پښتنو پر هویت او کلتور یې سپکې سپورې ویلې دي. ځکه زیات پښتانه په نوره نړۍ کې خواره واره دي او نوي ماشومان یا تنکي ځلمیان چې کله دغه ډول لیکنې لولي، نو بد اغېز ورباندې کړي، یو خو کلتوري پردېتوب هغوی تر ګواښ لاندې نیولی، نو دغه مضرې لیکنې یې ذهني تېښته لا زیاتوي.

هغه خپرندویې ټولنې چې په لره او بره کې کار کوي، باید د افغانستان په تاریخ پورې اړوند کتابونه د دغو ویبپاڼو څارونکو ته ورولېږي، چې هغوی یې په پاڼه کې کښېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کوم مسلکي یا ځانګېز قاموس هم لیکل کېږي، باید په انټرنټ کې هم خوندي شي، ځکه په انټرنټ کې خلک له قاموس څخه په اسانۍ سره کار اخیستلای شي، که کوم توری یې په کار وي، د الفبا په حساب سم له لاسه توري ته ورځي او مانا یې پیدا کوي. هلته د کتاب غوندې زیات لټون ته اړتیا نه پېښېږي.

که چېرې د انټرنټ ارزښت او اسانتیاوې په پام کې ونیول شي، زیات کسان به ورته مخه کوي، هم به یې له شتو معلوماتي توکو څخه سمه استفاده کوي، هم به په خپله یو څه توکي په کې خوندي کوي.د پښتو د ودې او لا پراختیا په هیله.

## ژباړن باید څوک وي؟

په نوره نړۍ کې د ژباړې لپاره منظم ارګانونه شته، چې ارزښتمن کتابونه ژباړي او په لوړ تیراژ یې خپروي. هلته ژباړن د خپل مسلک، پوهنیز مهارت او ذوق له مخې کتابونه ټاکي، یا یې هم خپرندوی ارګان ورته په ګوته کوي. خو زموږ ستونزه دا ده، چې تر اوسه یو خپرندوی ارګان یا ټولنه نه لرو، چې په پراخه پیمانه پښتو کتابونه، راخپاره کړي. ژباړې ته خو له زیاته وخته پاملرنه نه ده شوې، که شوې هم ده، خلکو له ژباړن څخه زیاتې بېځایه غوښتنې لرلې دي.

د ساري په توګه: هغه څوک چې له ادبیاتو سره مینه لري او پښتو ناولونه ژباړي، ورته ویل کېږي: په پښتو کې ناولونو ته هېڅ اړتیا نه شته، ته باید یو قاموس ولیکې، یا د بل لوی علمي کتاب ژباړې ته ګونډې ووهې، چې ګټه یې زیاته ده !!

که چېرې ژباړې د هر ژباړن د ذوق او خوښې له مخې وشي، پایله به یې زیاته غوره وي، که یو ادیب یا د ادبیاتو لېوال کس مجبوروو چې یو علمي قاموس وژباړي، یا یې ولیکي، ښایي د یوه بل پوه او په دې مسلک کې د وارد کس په کچه یې ښه ونه ژباړي.

په هره برخه کې خلک شته، چې د خپل مسلکي مهارت او ذوق له مخې یوه هڅه و هاند کوي. که د کیمیا استاد یو کتاب ولیکي، یا یې وژباړي، ښایي زیات معیاري یې وژباړي، خو که یو ادیب اړ کړو، چې د مثلثاتو یو کتاب وژباړي، نو ښایي زیاتې تېروتنې ولري.

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډاکټر د طب اړوند کتاب ولیکي یا وژباړي، هم به د زیاتو نیمګړتیاوو مخه نیول کېږي، هم کېدی شي په کتاب کې پخوانۍ تېروتنې او غلطۍ اصلاح شي. ښایي ځینې داسې ډاکټران هم وي، چې له ادبیاتو سره مینه لري، هغه که د ادبیاتو اړوند کتاب لیکي یا په دې برخه کې بل ادبي کار ترسره کوي، باید مخه یې ونه نیسو. ځکه چې دا د ذوق او تندې خبره ده، هرڅوک کولای شي، له خپل ذوق او خوښې سره سمې لیکنې وکړي.

لیکوال او ژباړن ته باید مونږ قاعدې او معیارونه وړاندې نه کړو، باید پرېښوول شي، چې هر کس په خپله خوښه یوه څانګه وټاکي، کتابونه په کې ولیکي او یا یې وژباړي.

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده

پارسي هم ښه په خوند خوږه ده

چا یې پلو له مخ وانه خیست

پښتو لا هسې بکره پرته ده

خوشال بابا

For more Pashto Books Visit us : http://www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرچینې:


.1چرا رنج میبریم؟: عبدالمجید رشید پور، 332/331 مخونه، کلمات مرده و بیجان.
.2گوربت: پر له پسې شپاړسمه گڼه، ژبه، دماغ ته د خارجي نړۍ د پرانیستې کړکۍ په څېر، محمد ظاهر افق.
.3گندهارا: د فرهنګ په وده کې د ازادو خپرونو اړتیا، سرمحقق زلمی هېوادمل، 196 مخ.
.4د پښتو د ودې اړتیا او لارې چارې: 170مخ، د جمال الدین لیکنه: د پښتو ژبې د وروسته پاتې کېدو لاملونه او د هغې په وړاندې په شتمنو هېوادونو کې د اوسېدونکو افغانانو مسئولیت.
.5پورتنی اخځ: پښتو ژبه، یوه ملي او فرهنګي اړتیا، د استاد عبدالخالق رشید لیکنه، 45 مخ.
.6هیله: پرله پسې اتلسمه گڼه، پښتو ژبه او نننۍ اړتیاوې، د ډاکټر خوشال روهي لیکنه، 125 مخ.
.7د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې: پښتو ژبه یوه ملي او فرهنګي اړتیا، د استاد عبدالخالق رشید لیکنه، 53 مخ.
.8افسانه های معاصر المانی: د الماني کیسو دري ژباړه، الف مخ.
.9هنر و ادبیات: د چکسلواکیایي او روسي لیکوالو د لیکنو او مرکو ټولګه، مریم وجدان، د چنګېز ایتماتوف مرکه، 1364ل کال، 9مخ.
.10گوربت: پرله پسې شپاړسمه گڼه، ډله ییزه مفاهمه، د استاد عبدالجلیل وجدي لیکنه، 71مخ.
.11گندهارا: پرله پسې اتمه گڼه 1377ل کال / سلواغه- کب / ادب / سباوون مومند.
.12د پښتو ادبیاتو تاریخ: استاد زلمی هېوادمل، په پښتو کې د نوي معاصر شعر، د پیدا کېدو زمینې، 275مخ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**